سلام خان ۲۰۱۱/۰۹/۰۳

# اگست میاشت په تیرو لسو کلونو کی

## د امریکایي پوځیانو لپاره خونړۍ وه

نژدې لس کاله مخکې په نیویارک او واشنګټن باندې د تروریستي بریدونو له امله نژدې درې زره کسان ووژل شول چې بیا امریکایي ځواکونو د طالبانو او القاعده پرضد په افغانستان کې عملیات وکړل. د دې جګړې له پیلیدو تقریبا دوه کاله وروسته امریکایي ځواکونو د صدام حسین د رژیم پرضد عملیات پیل کړل چې درا پوروونو پر اساس په دې لسو کلونو کې په عراق او افغانستان کې د امریکا شپږزره دوه سوه پوځیان تراوسه وژل شوې دي، په عراق کې د امریکایي محاربو پوځیانو له وتلو وروسته د دوی تلفات لږ شوې دي خو په افغانستان کې لاهم د امریکایي عسکرو د مړینې کچه لوړه ده، دتیر اګست میاشت په تیرو لسو کلونو کې تر بلې هرې میاشتې د امریکایي پوځیانو لپاره په افغانستان کې خونړۍ وه او



تر شپیتو ډیر عسکریې په دې موده کې ووژل شول، د اسلامي حزب مشر ګلبدین حکمتیار هم د کوچني اختر د مبارکۍ تر څنګ یې ویلي چې بهرني ځواکونه په افغانستان کي له ماتي سره مخ دي، او هیله یې ښوولې چې د بهرنیانو له حضور پرته په افغانستان کي له افغانانو سره د خوشحالۍ اختر ولمانځي.

د حکمتیار پیغام تر ډېره د میدان وردګ ولایت پر پیښه راڅرخي چې د روژې په لومړیو ورځو کي د امریکایي ځانګړو ځواکونو یوه چینوک الوتکه طالبانو وویشته او شاوخوا ۳۵ امریکایي پوځیان یې پکښې ووژل.

حکمتیار پر دې شک ښودلی چي امریکایانو دي د چینوک ځرخکي ویشتونکی طالب وژلی وو، حکمتیار وایي د امریکایانو دا ادعا د خندا وړ ده، د طالبانو مشر ملا محمدعمر اخند د کوچني اختر د مبارکۍ ترڅنګ اوسني روان حالت ته داشاری په طرځ کی ویلی دی چی: د اسلام او افغانستان دښمنانو سږکال د مجاهدینو د ماتي او خپل شوم هدف ته د رسیدو یو پرېکنده پړاو ګڼلی وو، خو د دوی پلانونه له اټکل خلاف ثابت سول او د تیر کال په نسبت د سر او مال ډېر زیانونه ور ورسیدل.

تر دې وړاندې د دوه زره لسم کال د جولای میاشت تر ټولو خونړی وه، چې پنځه شپیته سرتیري په کې وژل شوي وو. سږ کال په افغانستان کې تر اوسه پورې ۳۹۰ تنه بهرني عسکر وژل شوي دي خودا په داسی حال کی دې چی دامریکی ولسمشر اوباما ځو ور ځی وړاندی په واشنګټن کی وویل چې څو میاشتې مخکې د تروریزم پرضد امریکا تر ټولو ستربریالیتوب ترلاسه کړ. ولسمشر اوباما په ایبټ اباد کې د القاعده شبکې د مشر اسامه بن لادن وژلو ته اشاره وکړه چې د مې په دوهمه نیټه د ځانګړیو امریکایي ځواکونو د عملیاتو پر مهال ووژل شو په عین حال کی اوباما ویلی دي چې، د افغانستان جګړه په ختمیدو ده او په تیرو لسو کلونو کې د امریکایي پوځیانو په دې جګړې کې تر ټولو ستربریالیتوب په برخه شوی دی، د امریکا ولسمشر په داسې وخت کې د افغانستان په جګړې کې د بریالیتوب خبره کوي چې په روانې میلادي میاشت کې د طالبانو د رژیم له ماتې راورسته تر بل هر وخت د امریکا ډیر پوځیان د یوې میاشتې په موده کې وژل شوې دي، بارک اوباما د سپټمبر د یولسې نیټې د تلین د لسم کال تر لمانځلو څه باندې اونۍ مخکې په خپله وینا کې دتیری د سې شنبې په ورځ وویل چې د افغانستان د جګړې پای ته نژدې شوې یوو، د هغې جګړې پای ته چې د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده شوې ده.

واشنګټن ټایمز ورځپاڼې په وروستۍ ګڼې کې: په افغانستان کي د اوباما ناکامي - تر سرلیک لاندي یوه مقاله لیکلي او په افغانستان کي د دیره امریکایي ځواکونو د مرګ ژوبلې د ارقامو له یادونې وروسته لیکي، د ۲۰۱۱ کال آګست میاشت د افغانستان په لس کلنې جګړې کي د امریکایي ځواکونو لپاره تر ټولو خونړۍ او مرګونې میاشت وه. پدې میاشت کې ۶۶ امریکایي عسکر او ۱۴ نور بهرني عسکر وژل شویدي.

ورځپاڼه لیکي: د امریکا د وخت جمهور رئیس جورج ډبلیو بوش په ډېرې آسانۍ او برې سره په افغانستان کي د طالبانو رژیم ړنګ کړ خو د بوش ادارې هغه مهال ونشو کړای چې د القاعده شبکې مشر اسامه بن لادن په تورې بوړې کی ونیسي او پاکستان ته د تلو مخه یې ونیسي، جورج ډبلیو بوش مخکې له هغې چې افغانستان باثباته کړي، خپل پام یې د افغانستان له جګړې څخه عراق ته واړاوه او زیاتې منابع یې هلته متوجه کړې، د امریکا حکومت په عراق کې ښکیل شو، طالبانو ته فرصت برابر شو چې ځانونه بیرته سمبال کړي او دا اوسنۍ ستونزې د هاغه وخت د پریکړې نتیجه ده



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د افغانستان او عراق د جګړو لګښتونه به په ۲۰۱۱ مالي کال کي یو اعشاریه ۲۹ تریلیونو ډالرو ته ورسیږي چی دا په خپل ذات کي بیخي ډېرې پیسي دي. خو دا خبره هم باید له یاده ونه باسو چی دا پیسي د جمهور رئیس اوباما یوازي د یوه کال د بودجي له کسر څخه یو څه زیاتې دې، پر دې سربیره، په امریکا کي د اقتصادي رکود د له منځه وړلو لپاره د سپیني ماڼۍ د اقتصادي مرستو په پلان باندي، د ۲۰۰۹ کال د بودجي د کسر ۱۵ برابره زیاتې پیسي ولګیدلې، خلک داسي فکر کوي چی د عراق جګړه خرابه او د افغانستان جګړه په حقه او ښه جګړه وه. د همدي مفکوري یا نظر پر اساس په امریکا کي ډموکراټان په ۲۰۰۸ کال کی واک ته ورسیدل، د امریکا په کانګرس کي د ډموکراټانو د اکثریت مشري نینسي پلوسي په ۲۰۰۵ کال کي ویلي و چي د افغانستان جګړه ختمه شوي. نوموړي د همدی فرضي پر اساس استدلال کاوه چی د ګوانتنامو زندان باید وتړل شي. د ورځپاڼې په باور، د نوموړي استدلال قوي و، پدي معنی چي هغه مهال په افغانستان کي د امریکایي ځواکونو تلفات کم وو، د جمهور رئیس کرزي حکومت انتخاب شوی و، افغانانو امریکایان خوښول او داسي بریښیدله چی ماموریت تر سره شویدی، خو شپږ کاله وروسته د عامو خلکو نظرونه بدل شوي، د جمهور رئیس کرزي حکومت تر فشار لاندی دی، د جګړې تلفات څو برابره زیات شوي او واشنګټن له طالبانو سره د خبرو په لټه کي دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ